اسلام کښې دَ صفائی ستهرائی اهمیت او مقام باندے مشتمل یو مختصر او عام فهم کتاب

# صفائی
# او
# اسلامی تعلیمات

مرتب
مولانا مفتی محمد ایاز درّانی صاحب حفظه الله

العلم پبلیکیشنز

# صفائی او اسلامی تعلیمات

ابو معاویه مولانا مفتی محمد ایاز حفظه الله

العلم پبلیکیشنز محله جنګی پیښور
091-2590315

# د مضامینو فهرست

د صفائۍ او پاکیزګئۍ اهمیت.......................................4
د ګندګئۍ د حالت نه منع:......................................6
د ماحول اثر په صحت باندې: ....................................10
په اسلام کښې دَ صفائۍ او ستهرائۍ مقام: ..............................17
اسلام او د لارې صفائی:.......................................22
لاره ګنده کول حرام دی: ......................................27
اسلام او د لارې پلنوالې:.......................................29
استنجا او غسل خانې صفائې: ....................................30
کافرانو د اسلام اصول خپل کړل: ..................................36
اسلام او د فطرت امور:.......................................38
د ترخ او د نامۀ د لاندې ویښته: ..................................39
د نامۀ د لاندې صفائی: ........................................39
مسواك کول او خولې ته اوبۀ اچول(مضمضه): ........................40
د خلوې صفائی:.............................................41
غړغره:....................................................41
په اوبو سره پوزه صفاء کول: ....................................41
پوزه صفاء کول:............................................42
د پوزې ویښتۀ صفاء کول:.....................................42
د نوکانو صفائی: ...........................................43
د خوراك نه مخکښې لاسونه وینځل: ..............................43

سنت کول (ختنه): ........................................................ 44
د ماشومانو د بندولو قابل عدوتونه........................................ 46
د خزې ذمه واریانې............................................................ 47
د خوراك څښاك څیزونه کهلاؤ خرڅول: .................................. 49
د مدینې ښار مثالی صفائی: .................................................. 50
دصفائی او پاکیزګی اداب ..................................................... 52

بسم الله الرحمن الرحيم

# د صفائی او پاکیزګئی اهمیت

اسلام یو داسي جامع او هر څیز لره راګیرونکي دین دي چه د ژوند په هره شعبه کښي خپلو منونکو ته لارخودنه (راهنمائی) کوی. خواه د عقائدو ، عباداتو، اخلاق او معاملات یا د معاشرت شعبه وی. تر دې چه د نظافت صفائی او پاکیزګئی په باره کښي هم اسلام واضح لار خودنه کړي ده.

اسلام د ژوند په هر شعبه کښي طهارت او نظافت لره ډیر اهمیت ورکړې دې ځکه چه صفائی د انسان د ژوند یو اهم او لازمی جز دې . د دې وجې نه اسلام خپلو منونکو ته د جسم ، کپړو، کور، کوسې، بازار، جُمات او د مکتب حتیٰ چه د جذبات او خیالات هم صفا ساتلو حکم کړې دې.

نن د تهذیب او ترقیٔ په دور کښي چه کله مونږ نورو ترقی یافته قومونو ته ګورو، د هغوی کورونه ، سړکونه، د هغوی ښارونه، محلې، کلی او ابادیانو ته ګورو نو د هغوی په پاکوالی باندي حسد رازی خو دا صفائیٔ او پاکیزګیٔ خالص د اسلامی تهذیب او تمدن خصوصیت دې.

په دنیا کښي یو مذهب او یو قانون د صحت او صفائیٔ په احکامو باندي دومره زور نه دې ورکړې څومره چه قرآن په دې زور ورکړې دې او په تفصیل سره ئې د دې احکام بیان کړی دی، لنډه دا چه اسلام د طهارت او پاکیزګیٔ اصول او احکام مقرر کړی دی او دا ئې لازمی کړی دی، او حال دا دې چه رسول صلی الله علیه و سلم د خپلو

تعليماتو په ذريعه امت ته د هميشه پاك او صفا اوسيدو تلقين كړې بلكه تاكيد ئې كړې دې. د مونځ د صحت او درست كيدو د پاره ئې ضروری كړي ده چه د انسان بدن ، جامې او د دهٔ د مونځ كولو ځائې به د نجاستونو او ګندګو نه پاك او صفا وی او صحابو رضوان الله عليهم اجمعين چه به د طهارت او پاكيزګئې كوم اهتمام كولو، الله پاك په قرآن كښې د هغوی صفت كولو سره فرمائی:

فِيْهِ رِجَالٌ يُّحِبُّوْنَ اَنْ يَّتَطَهَّرُوْا وَاللهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِيْنَ [توبه:١٠٨]

"په دې (كلی) كښې څهٔ خلق داسې دي چه پاك او صفا اوسيدل خوښوی او الله پاك صفا اوسيدونكو لره خوښوی".

هر كله چه الله رب العزت طهارت او پاكيزګی د خپل محبت ذريعه جوړه كړه نو د دې نعمت نه محرومه كيدل د چا خوښ دی؟ مونځ انسان لره خپل جسم او اعضاء پاك ساتلو باندې مجبوره كوی، په ورځ كښې پنځهٔ وارې په هر مونځ كښې خولې لره، خپو لاسونو لره، چه اكثر كولاؤ وی د وينځلو ضرورت پيخيګی.

نن سبا ، دوړه، ګرد و غبار، لوګې، ګيسونه او دَ خرابې هوا په ذريعه په خولهٔ او پوځه كښې په سوونو جراثيم داخيليدو سره په زرګو بيمارياني پيدا كيږی، په اودس كولو باندې نن سبا ډاكټران، طبيبان ځومره زور وركوی او وائی چه د خولې صفائی نهٔ كولو سره د خيټې ټول مرضونه پيدا كيږی، په سوونو كاله مخكښې اسلام دا لازمی كړی دی او د عبادت جزء ئې جوړ كړې دې.

## د ګندګئ د حالت نه منع:

په خپله د نبی کریم صلی الله علیه و سلم په مزاج کښې لطافت، نفاست، صفائی او پاکیزګی ډیره زیاته وه. نبی صلی الله علیه و سلم به هیڅ یو ځائې لره ګنده او انسان لره خیرن لیدل نهٔ خوښول:

رَأٰی رَجُلاً عَلَیْهِ ثِیَابٌ وَسِخَةٌ فَقَالَ مَاکَانَ یَجِدُ هٰذَا مَا یَغْسِلُ بِهٖ ثَوْبَهٗ۔ [احمد، نسائی]

"یو وارې یو سړې لره نبی کریم صلی الله علیه و سلم په ګنده کپړو کښې اولیدلو نو اوئې فرمائیل:" د دهٔ نه دومره نه کیږی چه جامې اووینځی".

عَنْ اَبِی الْاَحْوَصِ عَنْ اَبِیْهِ قَالَ اَتَیْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ وَعَلَیَّ ثَوْبٌ دُوْنٌ فَقَالَ لِیْ اَلَکَ مَالٌ قُلْتُ نَعَمْ۔ قَالَ مِنْ اَیِّ الْمَالِ۔ قُلْتُ مِنْ کُلِّ الْمَالِ قَدْ اَعْطَانِیَ اللّٰهُ مِنَ الْاِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ وَالْخَیْلِ وَالرَّقِیْقِ۔ قَالَ فَاِذَا اَتَاکَ اللّٰهُ مَالاً فَلْیُرٰی اَثَرُ نِعْمَةِ اللّٰهِ عَلَیْکَ وَکَرَامَتِهٖ۔ [احمد ونسائی]

"ابو الاحوص تابعی رحمة الله علیه د خپل والد مالك بن فضیله رضی الله عنه نه روایت کوی چه زهٔ د رسول الله صلی الله علیه و سلم په خدمت کښې حاضر شوم او ما ډیرې کمزورې او خیرنې جامې اغوستې وې. نو نبی صلی الله علیه و سلم ماته اوفرمائیل: ایا ستا سره څهٔ مال او دولت شتې؟ ما عرض اوکړو او د الله فضل دې. نو نبی صلی الله علیه و سلم بیا تپوس اوکړو چه څهٔ قسمه مال دې؟ نو ما عرض اوکړو چه الله هر قسمه مال راکړې دې، اوښان هم دی ، غواګانې غوایان هم دی، ګډې بیزې هم دی، اسونه هم دی، غلامان او وینځې هم دی. نبی صلی الله علیه و سلم ارشاد او فرمائیلو: چه الله تا لره مال او دولت درکړې دې نو بیا د الله د انعام او احسان او د الله د فضل او کرم اثر په تا باندې ښکاره کیدل پکار دی."

دهغه رنګه نبی صلی الله علیه و سلم به ګنده او ګډوډ ویخته هم نه خوښول:

عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِي الْمَسْجِدِ فَدَخَلَ رَجُلٌ ثَائِرَ الرَّأْسِ وَاللِّحْيَةِ فَأَشَارَ إِلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ بِيَدِهِ كَأَنَّهُ يَأْمُرُهُ بِإِصْلَاحِ شَعْرِهِ وَلِحْيَتِهِ فَفَعَلَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَلَيْسَ هٰذَا خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْتِيَ أَحَدُكُمْ وَهُوَ ثَائِرُ الرَّأْسِ كَأَنَّهُ شَيْطَانٌ۔ [مالک]

"عطاء بن یسار رضی الله عنه نه روایت دې چه یو ورځ نبی صلی الله علیه و سلم په جمات کښي ناست وو چه یو تن جمات ته راغي، دهغه د سر او د ګیرې ویختهٔ بالکل خوارهٔ وارهٔ وو، نبی کریم صلی الله علیه و سلم په خپل لاس سره هغهٔ ته اشاره اوکړه د هغې مطلب دا وو چه هغه د خپل سر او ګیرې ویختهٔ سم کړی. نو هغه هم داسي اوکړه او بیا واپس راغلو، نو نبی صلی الله علیه و سلم او فرمائیل: ولې ستا دا د سر او ګیرې ویختهٔ سمولو سره راتلل د دې نه بهتر نه دی چه په تاسو کښي د چا د سر ویختهٔ خوارهٔ وارهٔ وی نو په داسي وحشیانه صورت کښي راځی چه هغه شیطان دې."

عرب د اسلام نه مخکښي د تهذیب او تمدن سره لږ اشنا وو، د اسلام په ابتدائی دور کښي چه به خلق جمات ته راتلل نو په مخامخ دیوالونو یا په زمکه به ئې توکول کول. نبی صلی الله علیه و سلم به دا نهٔ خوښول. یو وارې ئې د چا توکانړې په دیوال اولیدلو نو دومره غصه ورلره ورغله چه مخ مبارك ئې سور شو. یو انصاری خزې هغه توکانړې اوینزلو او په هغه ځائې باندې ئې خوشبو اومګله، نو نبی صلی الله علیه و سلم ډیر خوشحاله شو او تعریف ئې اوکړو.

کله کله به د نبی صلی الله علیه و سلم په مجلس کښې د خوشبو انګیټهیانې لګولې شوې وې چه په هغې کښې به کافور وو. نبی صلی الله علیه و سلم به د صفائۍ ډیر خیال ساتلو، تر دې چه نبی صلی الله علیه و سلم د کور مخښې ته د ډاګ وغیره د صفائی حکم کړې ؤو.

د پخوا زمانې عربو به د صفائۍ ډیر کم خیال ساتلو نن هم مونږ په کلي یا د ښار په تنګو او ډیر ابادې والا کوسو کښې ګورو چه خلق په سړکونو یا د ونو د لاندې ګند غورځوې او نور خلق هغه په خوشحالې سره برداشت کوی. نبی کریم صلی الله علیه و سلم په دې سلسله کښې په داسې خلقو باندې لعنت کړې دې چه په لاره یا د ونو په سایه کښې متیازې یا غټ بول کوی او ګندګی خوروی. اوئې فرمائیل:

اِتَّقُوا الَّاعِنَيْنِ قَالُوْا وَمَا الَّاعِنَانِ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ اَلَّذِىْ يَتَخَلّٰى فِىْ طَرِيْقِ النَّاسِ اَوْ فِىْ ظِلِّهِمْ۔ [مسلم]

"د لعنت سبب جوړیدو واله دوه خبرو نه پرهیز اوکړۍ، صحابو عرض اوکړو چه هغه دوه خبرې کومې دی. نبی صلی الله علیه و سلم اوفرمائیل اوله خبره دا چه یو سړې د خلقو په لاره کښې بول اوکړی او دویمه خبره دا چه د سائې والا ځائې کښې داسې اوکړی".

یو وارې نبی صلی الله علیه و سلم د جمات په دیوال باندې د توکانړو نشانات اولیدل نو د نبی کریم صلی الله علیه و سلم په لاس مبارك کښې د کهجورې ښانګه وه نو د هغې په مګلو سره نبی صلی الله علیه و سلم هغه ټول نشانات وران کړل بیا ئے دَ خلقو طرف ته خطاب کولو سره په غصه ئې اوئیل ایا تاسو دا خوښوۍ چه یو سړې ستاسو وړاندې راشی او ستاسو په مخ باندې اوتوکی.

لهذا زمونږ كورونه ، د هغې ديوال او فرش ، زمونږه سړكونه ، زمونږ كوڅې، كلي، ښارونه، كورونه او د كورونو نه بهر ته وتلې نالیئ پاكې او صفا وی او هغه داسې صفا ساتل په هر مسلمان او هر انسان باندې فرض دی. كله هم په يو ځائي خواه كور وی يا بهر، ګندګی خورول او غلاظت كول او ګنده اوسيدل د اسلام د احكامو خلاف دی، كله چه ځائی ځائي او كوڅې كوڅې داسې صفا ساتلو حكم كړې شوې دې نو په اسلام كښې كوم يو سړې په خيرنو جامو او ناپاك او ګنده حال كښې به څنګه برداشت كړې شی.

د هر سړي فرض دی چه هغه ځان صفا اوساتی او په ښۀ حالت كښې اوسی، كپړې صفا وی، بدن پاك وی، د نجاست او ګندګۍ نه پاك وی، كوم خلق چه ځان صفا نه ساتی نو په هغوی د الله رحمت نه نازيليږی بلكه په هغوی د الله نبی لعنت ليګلې دي او هغه خلقو ته ئې سست وئيلی دی كوم چه په پبلك ځائونو ، په عامو لارو، يا د ارام په ځائي او د ونو د لاندې ګندګی خوروی.

د صفائۍ او پاكيزګئۍ د احكاماتو د تاكيد او اهميت اندازه د دې خبرې نه هم لګولې شی چه ناپاكه سړی قرآن مجيد سره لګيدلې هم نه شی، كوم خلق چه د صفائي اهتمام نه كوی نو هغه اسلامی احكام او د مسلمانانو د تهذيب او تمدن نه خبر هم نه دی.

په قرآن كريم او احاديث نبوی صلی الله عليه و سلم كښې د صفائي باره كښې واضح احكامات دی لهذا د دې تعليماتو او هداياتو په رڼړا كښې مسلمانانو لره په خاص توګه توجه كول پكار دی. د بدنی

صفائي سره سره د کوڅو، بازارونو او محلو کښې هم د اسلامي هداياتو د وړاندې توجه ورکول پکار دي او خيال ساتل ضروري دي.

## د ماحول اثر په صحت باندې:

د انسان په صحت باندې د دهٔ د اطرافو او چل چاپير چل ډير جوَړ اثر وي کوم چه په درې حصو کښې تقسيمولې شي.

### 1طبعي حالات:

په مادي حالاتو کښې مثلاً د دې ځائې اب و هوا، د اوسيدو طرز، مشينونه،کيميائي څيزونه، تجارتي سامان او کاروباري مصروفيات.

### 2حياتياتي ماحول:

د يو علاقې پيداوار، مثلاً ونې خصوصي بوټي او زيلئ، کپړې، د زمکې زنده سر او نور ځناور وغيره.

### 3نفسياتي عوامل:

د دې علاقې عقائد، رسم و رواج ، عادتونه، د تهذيب حالات،او تمدني کيفيات اثر انداز کيږي. د موجوده صدئۍ انسان يو ميکينکل بت جوړ شوې دې. د ژوند د ضروورياتو ډيروالې، د کار ډير والې او د نقل او د حرکت زيادت ژوند د توازن نه ويستې دې چه د هغې تناؤ يا اثر په جسماني او دماغي نظامِ صحت باندې پريوتل ضروري دي. د دې وجې نه د معتدل او متوازن صحت او سلامتئې دپاره د دې حالاتو تحقيق او د دې قدر او قيمت معلومول ضروري دي چه په دې کښې توازن برقرار اوساتي.

اسلام چه د جسم ، جامو، ځائې، او ماحول د طهارت، نظافت، صفائۍ او ستهرائۍ چه کوم معيار قائم کړې دې د هغې مثال د دنيا په يو مذهب کښې هم نه ميلاويږي. دا وجه ده چه شريعت اسلاميه قدم

په قدم په پاکۍ باندې زور ورکوی او په قرآن او حدیث کښې ځائې په ځائې تاکید کړې شوې دې، ځکه چه د انسانی ژوند اصل مقصد عبادت او اطاعت دې . لکه چه ارشاد دې :

وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُوْنَ۔ [سورۃ ذاریات:۵۶]

"ما انسانانو او پریانو لره صرف د خپل عبادت د پاره پیدا کړی دی".

دا دواړه حکمونه یعني عبادت او اطاعت هغه وخت په انسان باندې نافذ کیږی کله چه انسان تندرست او توانا وی او که انسانی جسم کمزورے او معذور وی نو د هغه سره شریعت د نرمئ معامله کړې ده یا د قواعدو او ضوابطو د ګرفت نه ئې مستثنی کړې دې او دا یو حقیقت دې چه دَ صحت او تندرستۍ د باقي پاتي کیدو دپاره پاکی او نظافت ډیر ضروری دی. که انسان خپل بدن، جامې، خوراك د خپلو اوسیدو او عبادت کولو ځائې صفا نه ساتی نو ډیر زر به د مرضونو ښکار شی او کمزورې به شی بیا به د عبادت او اطاعت قابل پاتی نۀ شی ځکه اسلام اودس، غسل، د اودس ماتی حاجت، د نجاستونو نه د پاکۍ احکام ښودلي دی دې د پاره چۀ انسان خپل صحت او تندرستی برقرار اوساتی او د بیماریانو نه بچ شی او د الله عبادت او اطاعت هم اوکړی. په قرآن مجید کښې ارشاد دې:

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ ؕ وَاِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوْا ؕ وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰۤى اَوْ عَلٰى سَفَرٍ اَوْ جَآءَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ وَاَيْدِيْكُمْ مِّنْهُ ؕ مَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْ حَرَجٍ وَّلٰكِنْ يُّرِيْدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ۔ [مائدہ: ۳]

**د ایت مبارک خلاصه:**

ای ایمان والو! د دننه (باطنی) صفائی سره سره اوس تاسو ته د ظاهری صفائی او طهارت هم حکم کولې شی چه د دې اثر ستاسو په باطن باندې هم پریوځی او د دې د اثر د لاندې تاسو د نورو خلقو سره په پاك زړهٔ سره د احسان کولو سبق حاصل کړئی.

لهذا تاسو ته زما حکم دې چه کله تاسو د مونځ په اراده پاسی نو اول اودس کوی. د کوم طریقه چه تاسو ته نبی صلی الله علیه و سلم د خپل قول او عمل په ذریعه باندې ښودلے ده. البته کوم څیز چه په اودس کښې فرض دې هغه په غور سره واوری.

په اودس کښې اول فرض دا دی چه تاسو خپل مخونه اوینځئ، او دویم فرض دا دې چه د څنګلو پورې خپل لاسونه هم اوینځئ، او د اودس دریم فرض دا دی چه د خپلو سرونو مسح هم کوی او څلورم فرض دا دې چه د ګیټو پورې خپلې خپې هم وینځی.

او که تاسو د جنابت په حالت کښې ئی نو د مونځ نه مخکښې د خولې، پوزې سره خپل ټول بدن په ښهٔ طریقه باندې اوینځی او صفاء ئې کړئې. او کهٔ تاسو بیمار شئ او د اوبو استعمال مضر شی یا د کور نه لرې د سفر په حالت کښې ئی او د اوبو نه میلاویدو عذر وی یا په تاسو کښې څوك د قضاې حاجت نه فارغ شی او راشی په کوم سره چه اودس ماتیږی یا تاسو د جماع په صورت کښې د خپلو بیبیانو سره میلو شوې ئی د کوم سره چه غسل لازمیږی او بیا په دې ټولو صرر تونو کښې تاسو د اوبو په استعمال د ضرر د وجې یا د اوبو نه میلاویدو په صورت کښې تاسو د پاکې خاورې قصد یعنې تیمم کوی. د کوم طریقه

چه دا ده چه په دې پاکه خاوره او د زمکې په جنس باندي لاس راواچوۍ او د خپل مخ او لاسونو مسح کوۍ.

اوس اوګورۍ چه الله د تیمم حکم کولو سره څومره اسانی اوکړه ، سره د دې چه د دي نه مخکښي په اسمانی شریعتونو کښي داسي حکم نه دې کړې شوې. او اوس په تیمم کښي خصوصاً او په ټولو احکام شرعیو کښي عموماً دا حکم تاسو ته ځکه کړې شوې دې چه الله تعالیٰ په تاسو تنګی او سختی کول نه غواړی بلکه هغه خو تاسو ته د ظاهر او باطن د نجاستونو نه پاکول غواړی.

د دي وجې نه د طهارت قواعد او طریقه ئې مشروع کړه او کومه یوه طریقه باندې ئې بس نهٔ کړل. او دا د بدن دا طهارت خو په خاص احکامو د طهارت کښي دی او د زړونو طهارت خو په ټولو اطاعاتو کښي خیال ساتلې شوې دې. پس دا تطهیر دواړو ته شامل دې او که دا احکام نه وې نو هیڅ طهارت به نه وې حاصل شوې او الله ته دا منظوره ده چه په تاسو د خپلو احساناتو پوروالې اوکړی دې د پاره چه هر قسمه طهارت بدنی او طهارت قلبی حاصل کړئې چه د هغې نتیجه رضا او الله ته نیزدیکت دې چه لوئی نعمت دې او چه تاسو د الله حق اوپیژنۍ او د هغه د دې ورکړی شوی نعمت شکر ادا کړئ.

[تبیین القرآن لِلعلامه نیلویؒ و معارف القرآن لِلمفتی محمد شفیع ؒ]

د انسان جسم د یو مشین په شان دې. که مشین د دوړو نه صفاء نه کړې شی نو څه موده پس به مشین کار کول پریږدی. هم داسي د مسلسل محنت او کار کولو د وجې د انسان بدن ګنده کیږی یا څهٔ د بلې وجې نه د انسان په بدن باندې ګند لګی. نو که دا صفاء نه کړې

شي نو د جسم نه به بدبو راځي او مختلف قسم جراثيم به پيدا شي او انسان به د بيماريانو ښكار كړي. كه د خولې د صفائي خيال اونه ساتلې شي نو د معدې ايني او مرئي ډيرې بيماريانې به په بدن كښې پيدا شي. كه د غاښونو صفائي اونكړى شي نو انسان به د ضررى مرضونو ښكار شي او كه پوزه د ګندګئ نه پاكه نه كړې شي نو د ذهن ګنده كيدو دعقل د كميدو شكايت به مخښې ته راشي. او كه خوله لاس اونه وينځلې شي نو دوړې او لوګې به ئې د مخ رنګ او روغن وران كړي، په وينې كښې به ئې فساد پيدا شي، انسان به د دانو، ننكو وغيره هميشه د پاره ښكار شي. غرض دا چه د بدنى صحت او تندرستۍ دپاره د دې اعضاء بار بار وينځل، او په دې اوبهٔ بيول او لامدهٔ ساتل ئے ضرورى دى د دې وجې نه شريعت په ورځ كښې پنځه ځل اودس كولو حكم كړې دې او په هفته كښې يو ځل د غسل كول او د لامبلو حكم او تاكيد كړې شوې دې . چه د جمعې د اجتماع په موقع باندې د خولو د بد بوئي او د خيرو د وجې نورو ته تكليف نه وى.

لهذا نبى كريم صلى الله عليه و سلم ارشاد اوفرمائيلے دي:

حَقٌّ عَلٰى مُسْلِمٍ اَنْ يَّغْتَسِلَ فِىْ كُلِّ سَبْعَةِ اَيَّامٍ يَوْمًا يَغْسِلُ فِيْهِ رَأْسَهٗ وَجَسَدَهٗ۔

[بخاری و مسلم]

"په هر مسلمان لازم دى چه د هفتے په اوؤه ورځو كښې يوه ورځ(يعني د جمعې په ورځ) غسل اوكړى، په دې كښې د خپل سر ويختهٔ او خپل بدن ښهٔ خائسته وينځى".

او وے فرمائيل:

يَآاَيُّهَا النَّاسُ اِنْ كَانَ هٰذَا الْيَوْمُ فَاغْتَسِلُوْا وَلْيَمَسَّ اَحَدُكُمْ اَفْضَلَ مَا يَجِدُ مِنْ دُهْنِهٖ"

اې خلقو! چه د جمعې ورځ وی نو تاسو غسل کوۍ او کوم چه ښهٔ تيل او ښهٔ خوشبو وی د چا سره چه موجود وی نو هغه لګوې".

ځکه چه دَ نبی کريم صلی الله عليه و سلم په زمانه کښې مسجد نبوی دومره کُهلاؤ نه وو، عام طور باندې دَ صحابه کرام رضوان الله عليهم اجمعين پيشه محنت وو او پيړې جامې به ئې اغوستې، د ګرمۍ په موسم کښې چه به کله خوله راتله نو جامې به په خولې لمديدې او د جمعې په اجتماع کښې د دې نه د بدبو پيدا کيدو ويره وه، نو ځکه نبی کريم صلی الله عليه و سلم صحابو ته تاکيد اوکړو چه د جمعې په ورځ دې ټول حضرات غسل کوی د وس مطابق صفاء جامې د اغوندی او خوشبو د لګوی او جمات ته دې راځی.

اوس ظاهره ده چه د طهارت د کم نه کم تقاضا داسې هم پوره کيدې شوه چه خلق دې اودس کوی او راځی دې او د دوی جامې دې د ظاهری نجاست نه پاکې وی، خو نبی صلی الله عليه و سلم په دې اکتفاء کولو په ځائې د ذکر کړې شوی احکامِ نظافت د اهميت د وجې د حکم ورکړو دے دَپاره چه هيڅ يو سړې د بل د پاره د تکليف سبب جوړ نهٔ شی.

طبی مشاهده هم دا ده چه د انسان د دننه بدن زهريله مواد د بدن د اطرافو په ذريعه خارجيږی . او هغه مواد په لاسونو خپو يا د خولې او سر په اطرافو باندې اوديريږی او د مختلف قسمه زهريله دانو او ننکو په شکل کښې ښکاره کيږی او د بدن د اطرافو د وينځلو سره هغه ګنده مواد لرې کيږی او يا د بدن دننه د هغې جوش په اوبو سره مړ کيږی او يا خارجيږی.

تجربه هم ده چه د لاس خپو د وينځلو سره او په خولې او سر باندې د اوبو اچولو سره په نفس باندې غټ اثر وی او په اعضاء رئيسه کښې تقويت او بيداری پيدا کيږی. د دې تجربې تصديق د طبيبانو نه کولې شی ځکه چه کله په چا بې هوشی راشی يا اسهال راشی نو د هغهٔ په دې ذکر کړې شوی اعضاؤ باندې اوبه اچول تجويز کولې شی. دا وجه ده چه انسان ته حکم کړې شوې دې چه د خپل نفس نه سستيا او کثافت په اودس او غسل سره لرې کړی چه د الله په دربار کښې د اودريدو قابل شی. ځکه چه غافل او سُست د هغه په دربار کښې د اودريدو قابل نه شی کيدې. دا وجه ده چه نشه او د سستيا په حالت کښې مونځ کول جائز نه دی.

يَاۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَقۡرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنۡتُمۡ سُكٰرٰى حَتّٰى تَعۡلَمُوۡا مَا تَقُوۡلُوۡنَ وَلَا جُنُبًا .

[نساء: ۴۳]

"ای ايمان والو! (د هغه وخت پورې) مونځ ته مهٔ نيزدې کيږئ تر څو چه تاسو د نشې په حالت کښې يئ تر دې چه (تاسو نه نشه لرې شی)او تاسو پوهه شې هغه(کلمات) چه تاسو يئ وائې او نه په حالت د جنابت کښې".

## د ايت مطلب دا دې چه:

"ای مومنانو! د نفس د اصلاح او د ګناهونو نه د بچ کيدو دپاره مونځ ضروری کوئ خو دومره خيال خواه مخواه ساتئ که تاسو د خباثتونو دَ مور يعني شراب يا افيون، بهنګ وغيره په شان نشې والا څيزونو د استعمال په مرض کښې مبتلاء ئې نو د نشې په حالت کښې مونځ ته نزدې کيږئ هم مهٔ يعني که د نفس اصلاح غواړئ نو اول د

نشې د پریخودو فکر اوکړی ، او کله چه نشه لرې شی او په خپلو وئیلې شوي خبرو باندې پوهه شې نو هغه وخت مونځ کوې او دغه رنګه هغه وخت هم مونځ مهٔ کوې چه کله تاسو په جنابت کښې ئې تر دې چه تاسو غسل اوکړۍ او پاك شۍ".

ځکه چه یو نشئ ته د یو بادشاه دربار ته د نشې په حالت کښې د تلو اجازت نشی ورکولې. پس چه یو نشئي او شرابی د نشې په حالت کښې د یو دنیوی حاکم دربار ته نشی تلې نو د احکم الحاکمین په دربار کښې څهٔ رنګه شرف حاصلولې شی.

د ګناهونو او د سستیا د وجې چه کوم روحانی نور او خوشحالی د اعضاؤ نه اغیستې شوي وی نو د اودس په ذریعه واپس راځی. دا روحانی نور به د قیامت په ورځ په اعضاؤ کښې واضح ښکاری او پړق به وهی. (کما فی الحدیث)

## په اسلام کښې دَ صفائۍ او ستهرائۍ مقام:

په اسلام کښې د طهارت او پاکیزګۍ حیثیت صرف دا نهٔ دې چه صرف دَ مونځ، تلاوت، قرآن او طوافِ کعبه په شان عبادتونو دپاره ګینی یو لازمی شرط دې بلکه دا په خپله د دین یو اهمه شعبه ده او په خپله مطلوب هم دے. لکه چه ارشاد ربانی دې.

اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ التَّوَّابِیۡنَ وَیُحِبُّ الۡمُتَطَهِّرِیۡنَ [بقرہ:۲۲۲]

"بې شکه الله توبه کوؤنکو لره او صفائی کوؤنکو لره خوښوی". او د قبا په محله کښې اوسیدونکو ایمان والو په تعریف کښې د قرآن ارشاد دې:

فِیۡهِ رِجَالٌ یُّحِبُّوۡنَ اَنۡ یَّتَطَهَّرُوۡا وَاللّٰهُ یُحِبُّ الۡمُطَّهِّرِیۡنَ [توبہ:۱۰۸]

"په دې مسجد قبا کښي څۀ داسي باکماله خلق دی چه پاکیزګی او صفائی خوښوی او الله تعالیٰ هم صفائی کوؤنکی خوښوی".

د دې دوه ایاتونو نه اندازه لګولې شی چه په اسلام کښي د طهارت او پاکیزګۍ څومره اهمیت دې. نبی کریم صلی الله علیه و سلم خو صفائی نیم ایمان او د ایمان جز ګرځولې دې لکه چه د مسلم په یو روایت کښي دی چه :

اَلطُّهُوْرُ شَطْرُ الْاِیْمَانِ [مسلم]

"صفائی د ایمان حصه ده"

او د ترمذی د یو روایت مطابق:

اَلطُّهُوْرُ نِصْفُ الْاِیْمَانِ۔ [ترمذی]

"صفائی نیم ایمان دې".

ځکه چه د ایمان دوه حصې دی یو اعتقاد او دویم عمل او د عمل غټ او اهمه حصه یعني مونځ، په طهارت باندې موقوف دې د دې وجې دې ته نیم ایمان وئیلې شوې دې.

نبی کریم صلی الله علیه و سلم ته د نبوت ورکولو نه روستو د کارِ رسالت او فریضه تبلیغ کولو ته د متوجه کولو دپاره چه د ټولو نه اول کومه وحی شوې وه په هغې کښي د درس توحید نه پس اول هدایت دا دې چه د طهارت پوره اهتمام اوکړې شی.

وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ [مدثر:۴]

"خپلې جامې ښۀ صفا ساته".

د ثِيَابَ معنی جامې دی خو دلته صرف جامې مراد نه دی بلکه

د لباس نه روح، بلکه پوره شخصیت مراد دې. په عربۍ کښې "طَاهِرُ الثَّوب" هغه سړی ته وئیلې شی چه د هر قسمه عیبونو او ګندګیانو نه صفاء وی. نو د قرآن د هدایت مطلب دا شو چه خپلې جامې، بدن ، زړهٔ او روح د هر قسمه غلاظت نه صفاء اوساتې.

د زړهٔ او روح د غلاظت نه علاوه چه کوم ځائې کښې کفر او شرك، بد خیالات، بد اخلاقی او عیبونه دی نو هلته په نفس او مزغو کښې راتلونکی ګنده خیالاتو نه هم ځان بچ کول مراد دی او د بدن او د جامو د ګندګئ نه مراد هغه نجاستونه دی چه د هغې نه هر دَ سلیم طبیعت والا کراهت کوی یعني بد ئې ګنړی او د کوم چه نجس کیدل محسوس کیږی یا په کومو چه شریعت د نجس حکم لګولې دې.

شاه ولی الله رحمة الله علیه طهارت د انسانیت په څلورو بنیادی اخلاقو کښې شمار کړې دي. بیا شریعت د طهارت بهترینې طریقې خودلې دی په کومو سره چه نجاست لرې کیږی. اسلامی قوانینو د ټول ژوند احاطه یعني راګیر کړې ئې دي. اسلامی اصول د انسان د اسانتیا او عافیت دپاره دی. د دې باره کښې شیخ المشائخ شاه ولي الله قدس سره یو نفیس تحقیق د ذکر کولو قابل دي هغه په خپل بې نظیر کتاب "حجة الله البالغة" کښې فرمائی.

"چه الله ماته په خپل خاص فضل سره دا حقیقت ښودلې دې چه د کامیابۍ او سعادت کومې لارې طرف ته چه د انبیاء علیهم السلام بعثت شوې دې د کوم نوم چه شریعت دې اګر چه د هغې ډیر

بابونه دی او د هر باب د لاندي په سوونو احکام دی خو د خپل ډیر زیادت باوجود هغه د دې څلورو اصولی عنوانونو لاندې راځی. طهارت، اخبات، سماحت، عدالت.

بیا شاه صاحب د هر یو حقیقت بیان کړې دې چه د هغې د مطالعې نه روستو دا خبره بالکل واضح کیدو سره مخې ته راځی چه بغیر د څهٔ شك نه په دې څلورو حصو کښې تقسیمیږی. دلته مونږ د شاه صاحب د هغې حصې خلاصه لیکو په کوم کښې چه هغه د طهارت حقیقت بیان کړې دې. فرمائی چه:

یو سلیم الفطرت او صحیح مزاج والا انسان د کوم زړهٔ چه د ځناورتوب د لاندې تقاضو نه مغلوب نه وی او په هغې کښې مشغول نه وی، کله چه هغه په څه نجاست باندې ګنده شی یا هغه ته د وړو بولو یا لویو بولو سخته تقاضه وی یا هغه د کوروالی وغیره نه فارغ شوې وی نو هغه په خپل نفس کښې یو خاص قسم انقباض ، سُستیا، ګرانی، بې لطفی او په خپل طبیعت کښې د سخت ظلمت یو کیفیت محسوسه وی بیا کله چه هغه د دې کیفیت نه اوځی مثلاً واړهٔ بول یا غټ بولو چه کومه سخته تقاضا وه د هغې نه فارغ شی او ښهٔ استنجاء او طهارت اوکړی ، یا د کوروالی نه روستو غسل اوکړی او خائسته صفاء جامې واغوندی او خوشبو اولګوی نو د نفس انقباض او سُستیا او د طبیعت دَ ظلمت هغه کیفیت هغه وخت لرې شي او د دې په ځائې هغه په خپل طبیعت کښې کهولاؤ والې او دَ خوشحالۍ کیفیت محسوسه وی. د اول

کیفیت او حالت نوم "حدث" (ناپاکی) او د دویم نوم"طهارت" (صفائی او پاکیزګی) دی، او سلیم الفطرت حضرات د دې دواړو حالتونو او کیفیتونو فرق واضح طور باندې محسوسه وی. د پاکۍ په حالت کښې انسان د فریشتو سره ډیر مشابهت لری، ځکه هغه همیشه دپاره د ګندګیانو نه پاکې وی او د نورانی کیفیت د وجې تازه او خوشحاله وی او د دې وجې نه د خپل وس مطابق دَ طهارت او پاکیزګۍ اهتمام او همیشوالې انسانی روح لره د ملکوتی کمالاتو حاصل کولو او د الهاماتو او مناماتو په ذریعه د ملاء اعلیٰ نه استفادې کولو قابل جوړی. او هر چه د دې په الټه کله چه سړې د حدث او ناپاکۍ په حالت کښې وی نو د هغه د شیطانانو سره یو قسمه مشابهت او مناسبت وی او د شیطانی وسوسو د قبلولو یو خاص استعداد او صلاحیت په دهٔ کښې پیدا کیږی او د دهٔ روح لره تیارې راګیر کړی".(حجة الله البالغة:54/1)

د شاه صاحب د دې عبارت نه معلومه شوه چه طهارت او حدث په اصل کښې انسانی روح او طبیعت د دې ذکر کړی شوی ؤو حالتونو نوم دې او مونږ چه کوم څیزونو ته حدث یا ناپاکی او طهارت یا پاکیزګی وایو نو هغه په اصل کښې د دې اسباب او موجبات دی او شریعت دَ دغے اسبابو احکام جاری کوی او هم د دې نه بحث کوی.

امید دې چه د طهارت د حقیقت او انسانی روح د پاره د دې ضرورت او اهمیت پیژندلو د پاره د شاه صاحب دا کلام به ان شاء الله پوره وی. او د دې نه دا هم معلومه شوه چه طهارت او پاکیزګی د

شریعت پوره څلورمه حصه ده.

بیا د دې کتاب "حجة الله البالغة" په یو بل ځائی کښې په کوم کښې چه د طهارت احکام او د دې د اسرارو بیان دې نو هغه فرمائی:

د طهارت درې قسمه دی:

یو د ناپاکی نه طهارت یعني په کومو حالتونو کښې چه غسل یا اودس واجب وی. په دې حالتونو کښې غسل یا اودس شرعی طهارت او پاکی حاصلول دی.

دویم ظاهری نجاست او پلیتۍ نه خپل بدن یا جامې یا ځائي پاکول دی.

دریم د بدن په مختلفو حصو کښې چه کوم ګند یا خیری پیدا کیږی د هغې صفائی کول دی(لکه دَ غاښونو صفائی، د پوزې د ګندګۍ صفائی، نکونو او د نوم نه لاندې ویختو وغیره صفائی کول).

(معارف الحدیث 3/20)

## اسلام او د لارې صفائي:

د اسلام نظامِ حیات د ژوند په ټولو شعبو کښې رهنمائی کوی. د اسلام متعارف کړي شوي نظام کښې د انسان د مزاج ټول عناصر په نظر کښې ساتلې شوي دی او د دهٔ د اسانتیا او عافیت د پاره چه کوم اصول او ضوابط جوړ کړې شوي دی. اسلام د ازل نه تر ابد پورې د انسانیت د هر قسمه مسائلو حل پیش کړي دي.

اسلامی قوانینو د ټول ژوند احاطه کړي ده. اسلامی اصول او ضوابط انسان ته د اسانتیا او عافیت ورکولو د پاره دی. اسلام د ازل نه

تر ابده قائم دي او وی به او تر قیامته چه څومره راتلونکی مسائل دی د هغې ټولو مسئلو حل په اسلام کښي مکمل طور باندي موجود دې. ترقی یافته ملکونو ماهرینو د ټریفیك په قوانینو باندې یو شمیر کتابونه لیکلے دی چه هغه د دې قانونِ فطرت وضاحت دې.

د ډاکټر بلویرډ کتاب (Conveyance and Human Bieng) د ټریفیك د قوانینو د پاره د یورپ په سلیبس کښي شامل دې د کوم نه چه د یو مبتدی نه واخله تر یو ماهره پورې ټول افراد استفاده کولې شی. د رچرډ بورډنګ کتاب (Road and my Experience) چه د دهغه د ژوند دَ مشاهداتو او تجربو خلاصه ده. رچرډ بورډنګ ټول ژوند د سړکونو بادشاه پاتې شوې دي. (Road and Journey) "سړك او سفر" دا کتاب هم د ټریفك دَ قوانینو بهترینه مجموعه ده. غرض دا چه د دې ټولو کتابونو د مطالعې کولو نه روستو چه کله مونږ د نبی صلی الله علیه و سلم دَ احادیث او د صحابو رضي الله عنهم اجمعین په اثارو باندې غور او فکر اوکړو نو مونږ ته د دې خبرې ښهٔ احساس او اعتراف کیدیشی چه دا ټول قانونه د دې نچوړ دے او د اسلام نه اغیستې شوی دی. الله تعالیٰ په قرآن کښي فرمائی چه:

وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ۔ [نحل:۸۹]

"ای رسول صلی الله علیه و سلم مونږ په تا باندې کتاب نازل کړو په کوم کښي چه د هر څیز بیان موجود دې".

خو افسوس چه زمونږ حکومتونو، سیاستدانانو، مذهبی جماعتونو

قرآن پرېخودې دې. په دې سلسله کښې مونږ د سړك د پېښو(حادثاتو) په موضوع باندې څۀ خبرې کوو. په قرآن کښې راځی چه :

وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوْا فَقَدِ احْتَمَلُوْا بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا

[احزاب:۵۸]

"کوم خلق چه مومنانو سړو او مومنانو ښځو ته تکلیف رسوی او حال دا دې چه هغوی هیڅ قصور نه وی کړې. پس داسې خلق د تهمت لګولو او واضح ګناه ارتکاب کوؤنکې وی".

دغه رنګه دا خبره د ډېرو احادیثو نه ثابت ده چه یو بې قصوره لره تکلیف ورکول ګناه ده که هغه مسلمان وی او که کافر.

په یو حدیث کښې دی چه : ښۀ مسلمان هغه دې چه په خپله تکلیف اوچت کړی دې دپاره چه نور په ارام پاتې شی. (کنزل العمال)

په جنګ بدر کښې چه کوم قیدیان د مسلمانانو لاسونو ته راغلل، د هغوی باره کښې د نبی صلی الله علیه و سلم حکم دا وو چه هغوی په ارام سره ځان سره ساتۍ هغوی ته ښۀ روټې ورکوۍ . پس صحابو به په خپله وچه روټۍ خوړه او دښمنانو قیدیانو ته به ئې خه روټۍ ورکوله او قیدیان به په د شرمنده کیدل. (مجمع الزوائد)

په احادیث کښې د جمعې په ورځ د خلقو په سټونو اوچت اوړیدل او مخکښې تللو نه منع کړې شوي ده ځکه چه په دې سره مونځ کوؤنکو ته تکلیف رسی.

د ابن ماجه او ترمذی د حدیث مطابق نبی صلی الله علیه و سلم د داسې خلقو باره کښې فرمائیلی دی چه دا خلق ځان لره جهنم تلو ته پُل جوړوی. داسې غلطي کوؤنکی یو تن ته نبی صلی الله علیه و سلم او فرمائیل چه :

"چا چه مومن ته تکلیف ورکړو هغه ماته تکلیف راکړو، او چا چه ماته تکلیف راکړو هغه الله ته تکلیف ورکړو".

دغه رنګه ډیر احادیث علامه منذری رحمه الله په خپل کتاب "ترغیب و ترهیب" کښې بیان کړی دی. (اوګورئ504، 503، 1)

اصل خبره دا ده چه مونږ د قرآن او حدیث نه مخ اړولې دې. په قرآن او سنت کښې چه د عوامو کوم حقوق دی او څه رنګه چه د عوامو د خدمت کولو کلچر اسلام خودلې دې مونږ د هغې نه ناخبره یو. د دې په خلاف د ګانو او ګډا کلچر او خود غرضۍ او دولت پرستۍ کلچرپه مونږ باندې راخور دې.

په احادیثو کښې راځی چه کوم سړی د لارې نه تکلیف ورکوؤنکې څیز ، ازغې، ګټه، ګندګۍ لرې کوي د هغه ګناهونه معاف کیږی او هغه د جنت حقدار جوړیږی.

امام طبرانی رحمه الله روایت کوی چه سیدنا معاذ رضی الله عنه په سړك باندې روان وو او یو سړې د هغه سره وو. هغه د لارې نه ګټه لرې کړه. د هغه ملګری پښتنه اوکړه: جناب تاسو داسې ولې اوکړل؟ نو هغه جواب ورکړو:

"ما د رسول الله صلی الله علیه و سلم نه اوریدلي دی چه هغوی اوفرمائیل چه کوم سړې د لارې نه ګټه لري کړی او لارې صفاء کړی نو د هغه د پاره په عمل نامه کښې نیکي لیکلې کیږی او دا چا نیکي چه داسي اولیکلی شی یعني قبوله شی نو هغه به په جنت کښې داخل کړی شی".

په یو بل حدیث کښې دی چه څوك د مسلمان د لارې نه تکلیف ورکوؤنکی څیز لري کړی نو د هغه د پاره نیکي لیکلې کیږی او الله تعالیٰ چه د چا نیکي اولیکی نو د هغې په بدله کښې ئې جنت ته داخلوی.د مسلم او نسائي په حدیث کښې وئیلې شوی دی:

کوم سړې چه د مسلمانانو د لارې نه ګټه، ازغې یا د هډوکی ټوټه لري کړی نو ګویا چه هغه ځان د دوزخ د اوور نه لري کړو.

بخاری او مسلم د سیدنا ابو هریره رضی الله عنه نه روایت کړې دے.چه جناب نبی کریم صلی الله علیه و سلم اوفرمائیل چه یو سړې په لاره روان وو هغه ازغو والا یو څانګه اولیده او هغه ئې د لارې نه لري کړه . الله تعالیٰ د هغه نیکی قبوله کړه او هغه یې اوبخښو.

په یو بل حدیث کښې دی چه یو سړې په یو لاره په یو ازغی دار څانګه تیر شو. هغه اووې چه: زۀ به دا د دې ځائی نه لري کړم چه مسلمانانو ته تکلیف اونۀ رسوی. پس الله هغۀ لره د هغۀ په دې نیکۍ باندې جنت ته داخل کړو.

د ابو داؤد د روایت الفاظ داسي دی چه د یو سړي د قبولیت دپاره د دې نه بهتر عمل څهٔ کیدې شي چه هغه په لاره کښي ازغی دار بوټې اولیدو او هغه ئې کټ کړو او غوزار یئ کړو ، یا په سړك باندې یئ ازغی دار بوټې اولیدو او هغه ئې کټ کړو او غوزار ئې کړو. الله تعالیٰ دا نیکي قبولوی او هغه په جنت کښي داخلوی.

د سیدنا انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دې چه په لاره کښي یو ونه وه چه د هغې نه به تیریدونکو ته تکلیف وو . یو سړې راغې او هغه نه ئې لار صفاء کړه. بیا نبی کریم صلی الله علیه و سلم فرمائی چه ما هغه سړې په جنت کښي د ونې د سوری د لاندې اولیدو چه ګرځیدو. (مسند احمد، ترغیب و ترتیب 618 تا 621)

د برنی حدیثونو نه ثابته شوه چه په لاره تلونکو دپاره د لږ دَ تکلیف سبب جوړیدل د ځان د پاره د دوزخ لاره برابرول دی. بلکه نبی کریم صلی الله علیه و سلم د ژبې مبارکې نه د دوزخ وعید په ګڼړ شمیر احادیثو کښي ذکر شوې دې. د دې په خلاف د لارې نه تکلیف رسوؤنکې معمولی څیز لرې کولو سره د انسان بخښنه کیږی او جنت ورته میلاویږی. (معاشرت نبوی صلی الله علیه و سلم او جدید سائنس)

## لاره ګنده کول حرام دی:

په سړك باندې د تلو په وخت کښي تا پوستکې یا ګندګی په سړك باندې غوزار کړه، اوس د دې د وجې نه د چا خپه اوښوئیږی، یا چاته تکلیف اورسی نو د قیامت په ورځ به ستا راګیردل وی. او که د

دې نه تکليف هم اونهٔ رسی خو کم از کم ګندګی خو دې خوره کړه . د دې ګندګۍ ګناه خو به په تا وی کنه. په حديث شريف کښې راځی چه کله به نبی صلی الله عليه و سلم په سفر کښې وو او په سفر کښې به د اودس ماتی ضرورت راپيښ شو نو نبی صلی الله عليه و سلم به مناسب ځائې تلاش کولو د پاره به دومره کوشش کولو څومره چه يو انسان د کور جوړولو دپاره د مناسب ځائې تالاش کوی. داسې به ئې ولې کول؟ د دې وجې چه چرته داسې نه وی چه دا د خلقو د تيريدو ځائې وی، او هلته د ګندګۍ د وجه نه خلقو ته تکليف اورسی.

په يو بل حديث کښې نبی صلی الله عليه و سلم فرمائيلی دی چه د ايمان د اوياؤ (70) نه زياتې شعبې دي، چه په هغې کښې د ايمان اعلیٰ او اوچته شعبه کلمه "لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ" وئيل او کمه او ادنیٰ شعبه د ايمان دا ده "اِمَاطَةُ الْاَذٰی عَنِ الطَّرِيْقِ" چه د لارې نه ګندګی والا څيز لرې کړې شی. مثلاً په لاره کښې يو پوستکې يا ګندګی پرته ده هغه اوچته کړې او لرې ئې کړې. دې دپاره چه تيريدونکو ته څه تکليف نه وی، دا د ايمان کمه درجه ده. لهذا چه کله د لارې نه تکليف والا څيز لرې کول د ايمان شعبه ده نو بيا په لاره کښې تکليف والا څيز غورزول د ايمان منافی او مخالف دې.

اصل کښې د انسان د پاره اسلام د هميشه دپاره قانون او آخری هدايت دې د دې وجې نه د دې په ضابطو کښې دَ آئنده راتلونکی ټولو حالاتو خيال ساتلې شوې دې.

## اسلام او د لارې پلنوالې:

نبی صلی الله علیه و سلم د ښار د منصوبه بندۍ او د تعمیر د فن خودلو دپاره نه وو راغلې. نبی صلی الله علیه و سلم د ټول انسانیت د پاره معلم راغلې دې. د دې وجې نه خو د انسانې ژوند یو شعبه هم د دې تمام عالم د نظر نه پټه پاتې نه ده. نبی صلی الله علیه و سلم دَ محلې او کوڅې پراخه ساتلو تلقین کړې دې چه:

اِجْعَلُوا الطَّرِيْقَ سَبْعَةَ ذِرَاعٍ [ابوداؤد، ابن ماجہ]

د ګلو او کوڅو پراخوالې اُؤو ذراع پورې ساتۍ.

ذراع برابر دې د یو لاس او یو لاس برابر دې د یو نیم فټ. لهذا اووه ذراع د لس نیمو فټو برابر دی. د کوڅې چه کم از کم دومره پراخوالې اوساتلې شی نو د نورو سړکونو او غټوغټو شاهراهو خو د دې نه زیات پراخه کیدل ضروری دی.

سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه چه کله د کوفې ښار اباد کړو نو حکم ئې اوکو چه سړکونه او کوڅې پراخه اوساتې، مثالاً 30 لاسه، 40 لاسه پراخه دي جوړ کړې شی.

په یو روایت کښې د وادۀ یا دعوتونو د پاره لاره بندولو نه هم منع کړې شوې ده او ګناه ده. ځکه چه په لاره تلونکو ته په دې سره تکلیف رسی. د مسلمان فرض خو دا دی چه په خپله تکلیف اوچت کړی او د لار والو ته ارام اورسوی.

امام غزالی رحمه الله ليکلي دی چه د جماتونو نه بهر چه د جمعې په ورځ به کومو خلقو په سړك باندې د مونځ د پاره کپړه خوروله او لاره به ئې بندوله نو صحابه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين به هغه وهل او لرې کول به ئې.

د مسلمان کار خو د لار والو او مسافرو خدمت دې نهٔ دا چه هغوی ته تکليف رسول. دغه رنګه کهٔ چا به لاره بنده کړه او خپل دکان به ئې واچو او په لاره کښې به ئې رکاوټ پيدا کولو نو خلفائې راشدينو به هغه لرې کولو. غرض دا چه په لاره کښې رکاوټ پيدا کول او ګندګی خورول په اسلام کښې لويه ګناه ده. اصل کښې په دې دور کښې خود غرضې زمونږ اخلاق تباه کړي دی. الله تعالیٰ دې پوهه رانصيب کړی.

## استنجاخانې او غسل خانې صفاء ساتل:

مولانا مفتی تقی عثمانی صاحب فرمائی:

تقريبا دوه کاله مخکښې زهٔ د برطانيه د يو سفر په دوران کښې د برمنګهم نه د ريل ګاړی په ذريعه ايډمبرا ته روان ووم، په لاره کښې ماته د غسل خانې د استعمال ضرورت راغې، زهٔ د خپل سيټ نه پاسيدم او غسل خانې طرف ته روان شوم نو اومې کاته چه هلته يو انګريزه ښځه د مخکښې نه په انتظار کښې ولاړه ده چه د هغې نه ماته اندازه اوشوه چه غسل خانه خالی نه ده. نو زهٔ په يو نيزدې سيټ کيناستم او انتظار مې کوو. چه څه وخت تير شو نو ناڅاپه د غسل خانې په دروازه ځما نظر اولګيدو نو هلته د vacant تخته صفاء ښکاريده چه د هغې مطلب دا وو چه غسل خانه خالی ده او په دې کښې څوك هم نيشته.

خو بيا هم هغه خزه د دروازې سره خواته ولاړه وه، نو د دې نه ماته اندازه اوشوه چه هغې ته څه غلط فهمي شوي ده. زهٔ نيزدې ورغلم او هغې ته مي اووي چه غسل خانه خو خالي ده كه ته ورتلل غواړي نو ورشه. هغې جواب راكړو چه اصل كښي په غسل خانه كښي څه ووم خو كله چه زهٔ د اودس ماتي نه فارغه شوم نو ريل ګاړی په پليټ فارم باندې اودريدو او ما كموډ فلش (خالي) نه كړې شو، يعني په هغې مي اوبه وانه چولې شوي ځكه چه كله ريل ګاړې په پليټ فارم باندې ولاړ وي نو فلش كول مناسب نه دي، اوس زهٔ بهر په دې انتظار كښي يم چه ګاړې روان شي نو زهٔ دننه لاړه شم او كموډ به فلش كړم، نو بيا به په خپل سيټ باندې كينم.

دا په ظاهر كښي يو وړه او معمولي شان واقعه وه، خو زما په ذهن باندې ئې يو نقش جوړ كړو، دا يو انګريزه ښځه وه او په ظاهر كښي مسلمانه نه وه، خو هغې چه كوم طرز عمل اختيار كړو هغه په اصل كښي د اسلام تعليمات وو. ماته ياد دي چه زما په ماشوم والي كښي د يو تن نه دا غلطي شوي وه چه هغه د غسل خانې د استعمال نه پس فلش اونهٔ كړو او بهر ته راوتو نو زما والد محترم (حضرت مولانا مفتي شفيع صاحب رحمة الله عليه) هغه ته په دې سخته تنبيه وركړه او وائې فرمائيل چه داسي كول د اسلامي تعليماتو مطابق سخته ګناه ده، ځكه په دې طريقه د ګندګي خورولو سره راتلونكي سړي ته تكليف وي او چالره هم تكليف وركول ګناه ده.

بل طرف ته چه ګاړې کله په پليټ فارم باندې ولاړ وی نو هغه وخت د غسل خانې استعمال يا هغه فلش کول د ريل د قواعدو مطابق ځکه منع دی چه د دې په نتيجه کښې د ريل سټيشن فضا خرابيګی او په پليټ فارم باندې موجود خلقو ته د ريل په پټلې باندې پروت ګند نه ذهنی تکليف هم وی او هغه ګندګۍ د بيمارو خوريدو سبب هم جوړيدې شی. هغه ښځې په يو وخت کښې د دواړو خبرو خيال اوساتلو. د ريل د ولاړې په حالت کښې اوبۀ اچول ئې هم خه اونۀ ګڼړل او د اوبو اچولو نه بغير په خپل سيټ باندې کيناستل ئې هم ټهيک اونه ګڼړل د دې وجې نه چه يو تن په دې حالت کښې هلته لاړ شی نو تکليف ورته اونه رسی.

مونږ مسلمانان يو او زمونږ د هر دينی تعليم شروع هم د طهارت نه کيږی کوم چه نبی صلی الله عليه و سلم د ايمان نيمه حصه ګرځولې ده. دې سره سره نبی صلی الله عليه و سلم ډير په نزاکت سره د هر هغه کار نه منع کړې ده چه په ناحقه د بل د تکليف ذريعه جوړه شی، خو دا خبره کولو سره شرم راځی چه زمونږه مشترکه طهارت که هغه په ريل کښې وی يا جهاز کښې وی، بازار کښې وی يا جماعت کښې وی، تعليمی ځايونو کښې وی يا هسپتالونو کښې، هر ځائې که د ګندګۍ داسې مرکزونه جوړ شوی دی چه د هغې خواته تريدل هم مشکل وی او تر څو پورې چه څه مصيبت رانه شی، يو سليم طبيعت والا سړې دپاره د هغې استعمال د يو لوئې امتحان نه کم نه وی. د دې

صورت حال یو لویه وجه دا ده چه په دې معاملاتو کښې مونږ د دین تعلیمات بالکل شاته غورځولي دی او د مشترکه استعمال ځایونو باندې ګند خورولو نه روستو مونږ لره دا خیال هم نه راځی چه مونږ د تکلیف ورکولو ګناه ارتکاب اوکړو د کوم چه به مونږ ته جواب ورکول راپه غاړه وی.

زمونږ د ملك د ریلوې په هره غسل خانه کښې دا هدایات لیکلې شوي دی چه تر څو پورې ګاړې په سټیشن باندې ولاړ وی، نو بیت الخلاء مه استعمالوې، خو عملاً صورت حال دا دې چه یو سټیشن به په مشکل سره داسې وی چه د هغې د ریل په پټلې باندې د دې هدایاتو د خلاف ورزي دا مکروه منظرونه په نظر نه راځی دغه رنګه هوائی جهازونو په غسل خانو کښې دا هدایات لیکلے شوي وی چه په بیت الخلاء کښې څۀ سخت څیز مه غورځوې، دې سره سره د مخ لاس وینځلو د پاره چه کوم بیسن لګیدلې وی هغه د استعمال نه روستو د راتلونکو مسافرو د اسانتیا د پاره د کاغذ په تولیې سره صفاء کړئ خو په دې هدایاتو باندې هم کما حقه عمل نه کیږی، نو زمونږ د جهازونو غسل خانې هم اوس زمونږ د مجموعی قومی مزاج ډیر بد (مکروه) تصویر پیش کوی، حالانکه کښې په دهغه هدایاتو باندې عمل اوکړې شی نو نورو ته به اسانتیا وی او دا صرف د شائسته والی نه علاوه د اجر او ثواب سبب هم دې.

د رسول الله صلی الله علیه و سلم مشهور ارشاد دې چه :

"د ایمان د اوویاو 70 نه هم زیاتې شعبې دی، او په هغې کښې ادنیٰ ترینه شعبه دا ده چه د لارې نه ګنده یا تکلیف رسوؤنکې څیز لرې کړې شی".

د دې ارشاد نبوی صلی الله علیه و سلم په رڼړا کښې د مومن کار خو دا دې چه د بل تن خوره کړې شوې ګندګی دې صفاء کړې شی نۀ چه په خپله ګندګی خوره کړی، کۀ ګندګی لرې کول د ایمان شعبه ده نو ګندګی خورول بې ایمانی او فسق دې، خو مونږ په خپل عمل سره څۀ داسې تاثر ورکړې دې چه صفائی او پاکیزګی زمونږ په ځایې د کافرانو او مغربی قومونو شیوه او عادت دې .

زما والد صاحب به یوه لطیفه وئیله چه په هندوستان کښې یو انګریز مسلمان شو او هغه د پنځۀ وخته مونځ دپاره جماعت ته راتلل شروع کړل، نو چه هغه ته به غسل خانې ته د تلو ضرورت پیښ شو نو په دې لیدو سره به د هغه زړه ماتیدو چه په نالو کښې ګندګی پرته وی، په غاړو باندې ګند پروت وی، نه خلق په دې کښې د ګندګۍ غورځولو نه منع کیږی او نه د دې د صفائې څۀ انتظام شته. اخر دا چه هغه په خپله د جمات د صفائی شروع کولو فیصله اوکړه او په جارو سره ئې صفائی شروع کړه، عقل مندو مسلمانانو خو به یقینی د هغه د دې عمل قدر کړې وی، خو د محلې یو صاحب په دې تبصره کوله نو وائې فرمائیل چه:

"دا انګریز مسلمان خو شو خو د دۀ د مزغو نه انګریزیت نه دې تلې"

کوم صاحب چه دا افسوس ناکه تبصره کوله هغه کهولاؤ په صریحو الفاظو کښې دا خبره اوکړه، خو که زمونږ د مجموعی طرز عمل جائزه واغیستې شی نو هم دا محسوسیږی چه مونږ صفائی او پاکوالې د"انګریزیت خوبی" ګرځولے ده او شاید چه ګندګی مو خپله خوبی.

او حال دا دې چه مونږ د کوم اسلام نوم اغیستونکې یو هغه د صفائې نه ډیر وړاندې د طهارت هغه تصور پیش کړې دې چه د ظاهری صفائې نه ډیر اوچته او برتر ده، او د بدن سره سره د روح د صفائې ئې هغه طریقې خودلې دي چه د کوم نه ډیر کافر قومونه محرومه دي.

د بد مزغه مغربی قومونه چه چرته د اجتماعی طور باندي ښومره صفائې خوښونکی دی، نو هغه اومره انفرادی طور باندې غلیظ او ګنده دی. د ضروری حاجتونو نه د فراغت نه پس د اوبو د استعمال د په هغوی کښې هډو څه تصور هم نیشته او حال دا دې چه د اوبو نه بغیر بدنی صفائی هډو کیږی هم نه.ګویا حال دا دې .

*گھر مصفیٰ آدمی آلودہ ہے　　　کس طرح تہذیب یہ بیہودہ ہے*

دا ټولې طریقې د دې وجې نه اختیار کړې شوی دی چه ټول زور په ظاهری صفائی باندې دې چه نورو ته په نظر راشی، ذاتی او دننه صفائی د کوم نوم چه "طهارت" دې د هغې څۀ تصور هم نیشته. د الله تعالیٰ په فضل او کرم سره اسلام مونږ ته د ظاهری صفائی (نظافت) سره سره د طهارت هم تفصیلی احکام راکړي دی د دې وجې نه په اسلام کښې د صفائۍ تصور ډیر جامع هر څۀ لره راګیرونکې او اوچت او برتر دې. اسلام

ته طهارت هم مطلوب دې او نظافت هم. د طهارت مقصد دا دې چه انسان په خپله واقعی صفاء وی او د نظافت مقصد دا دې چه هغه په خپله ګندګۍ باندې د نورو د تکلیف سبب هم جوړ نه شی.

د دې ټول تفصیل نه دا خبره واضحه شوه چه د طهارت سره سره نظافت هم د اسلام مطلوب دې او هیڅ یو داسې قدم جائز نه دې چه په هغې سره په ماحول کښې ګندګی خوریږی. دا د هر سړي داسې ذمه داری ده چه د هغې د اداء کولو د پاره بنیادی ضرورت د توجه کولو دی، که دا توجه پیدا شی نو په کتو کتو کښې به ماحول سم شی.

## کافرانو د اسلام اصول خپل کړل:

مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب فرمائی چه :

چه یو وارې زهٔ د والد صاحب سره د ډهاکه په سفر لاړم. د هوائی جهاز سفر وو، په لاره ماته غسل خانې ته د تلو ضروت راپیښ شو، تاسو به کتلی وی چه د هوائی جهاز د غسل خانې د واش بیسن دپاسه دا عبارت لیکلے وی: "کله چه تاسو واش بیسن استعمال کړې نو بیا په کپړې سره د صفاء او اوچ کړی دې دپاره چه نورو راتلونکو ته د دې نه کراهیت (بد ئې او نه ګنړی) نه وی"

کله چه زهٔ د غسل خانې نه واپس راغلم نو والد صاحب راته اووې چه په غسل خانه کښې د واش بیسن د پاسه چه کوم عبارت لیکلے دې، دا هم هغه خبره ده چه زهٔ ئې تاسو ته بار بار وایم چه نورو لره د تکلیف نه بچ کول د دین حصه ده. چه دا غیر مسلمانانو اختیار

کړي ده، د دې په بدله کښې الله تعالیٰ دوی ته په دنیا کښې ترقی ورکړي ده او مونږ خلقو دا خبره د دین نه ویستی ده او دین مو صرف په مونځ او روژې پورې محدود کړې دې، د معاشرت دا اداب مو بالکل پریخی دی، د کوم نتیجه چه دا ده چه مونږ خلق د زوال او تنزل طرف ته روان یو، وجه د دې دا ده چه الله تعالیٰ دا دنیا د اسبابو دنیا جوړ کړي ده. په دې کښې چه څۀ رنګه عمل اختیاریږي، الله تعالیٰ به د هغې هغه رنګه نتیجه پیدا کوی. غیر مسلمان قومونه ولې ترقی کوی.

ښۀ پوهه شيِ چه دا دنیا د اسبابو دنیا ده، چه دا خبرې غیر مسلمو حاصل کړې او په دې ئې عمل اوکړو نو الله تعالیٰ هغوی ته په دنیا کښې ترقی ورکړه. اګر چه په اخرت کښې د هغوی څۀ حصه نیشته، خو معاشرت هغه اداب کوم چه مونږ ته رسول الله صلی الله علیه و سلم خودلي دی. هغه اداب هغوی اختیار کړو. نو الله تعالیٰ هغوی ته ترقی ورکړه او مونږ مسلمانان یو، کلمه وایو،د ایمان اقرار کوو، د دې باوجود مونږ په دنیا کښې ذلیله او خواریګو نور خلق د کافران کیدلو باوجود ترقی کوی خو دا مو اونه کتل چه د دې کافرانو دا حال دې چه دوی په تجارت کښې دروغ نه وائی د امانت او دیانت نه به کار اخلی، د کوم په نتیجه کښې چه الله هغوی اوځلول ، خو مسلمانانو دا څیز پریخودو، دَ ژوند باقی څیزونه ئې د دین نه بهر کړل، چه د هغې نتیجه دا ده چه د خپل دین نه هم لري شو، او په دنیا کښې هم ذلیله او خوار شو ځکه خو علامه اقبال وئیلی وو:

*اور تم خوار ہوئے تارکِ قرآن ہو کر*

او حال دا دې چه نبی صلی الله علیه و سلم دا ټول تعلیمات مونږ ته راکړے دی دې د پاره چه دا مونږ په خپل ژوند کښې خپل کړو او دا د دین حصه اوګنړو. د دې ارشاداتو نه څومره اهم اصول زمونږ د پاره راوځی،او دا څومره وسیع خبره ده، الله تعالیٰ دې زمونږ په زړونو کښې احساس او ادراك پیدا کړی. [اسلام اور ہماری زندگی:۷/۵۵]

## اسلام او د فطرت امور:

د کومو امورو صحت او صفائی چه د انسان په فطرت کښې داخل ده اسلام هغه د امورِ فطرت په نوم سره یاد کړې دی کوم چه د جدید تحقیقاتو په رڼړا کښې بیانولې شی.

← سائنسی تحقیقات په نظر کښې ساتلو سره کۀ مونږ د ویختو په باره کښې د نبی کریم صلی الله علیه و سلم اسمانی تعلیماتو باندې غور اوکړو نو دا واضح کیږی چه دا څومره سائنټیفیك او د فطرتِ انسانی مطابق دی.

← د سر ویختۀ: د سرو باره کښې حکم شوې چه د سر ټول ویختۀ دې اوساتی یا دې د دوارو غوګونو د پوسه کو پورے وی او یا ټول سر دې اوخروی. مُحَلِّقِيْنَ رُءُوْسَكُمْ اَوْ مُقَصِّرِيْنَ۔

← د هلکانو سر خرول د ویختو ساتلو نه بهتر دی. (ابو داؤد)

← خپل ویختۀ وینځې او ګومنز او تیل ورکوی. (ترمذی)

## د ترخ او د نامه د لاندې ویخته:

ډاکټر ګهوش لیکلے دي چه د یو ځائي دمکمل او بهترین صفائی دپاره د هغه ځائي ویختۀ په آرام آرام کم کړی یا ئي مکمل اوخروی۔

(د سوشل میډیسن.۱۸ په حواله)

د رسول اکرم صلی الله علیه و سلم د عمل نمونه اوګوری:

۱۔ وَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَأْمُرُ بِتَغْيِيْرِ الشَّعْرِ مُخَالِفَةً لِّلْأَعَاجِمِ۔

۲۔ وَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَتَنَوَّرُ فِيْ كُلِّ شَهْرٍ وَيَقْلَمُ أَظْفَارَهٗ فِيْ كُلِّ خَمْسَةَ عَشَرَ يَوْمًا۔

یعني نبی صلی الله علیه و سلم به د ویختو د سمولو حکم کوو دې دپاره چه د عجمیانو کافرانو مخالفت اوشی او نبی صلی الله علیه و سلم به په میاشت کښي یو وار د ترخونو او د نوم نه لاندې ویختۀ صفاء کول او هر پنځلس ورځې پس به ئي نکونه واړۀ کول.

(طب نبوی صلی الله علیه و سلم. پرنسپل نذیر لاهور)

د یو بل روایت مطابق نبی صلی الله علیه و سلم به عام طور باندې د جمعې په ورځ باندې بریتونه او نوکان د جمعې نه مخکښي کټ کول او د نوکانو او ویختو د خخولو حکم به ئي کولو.

## د نامه د لاندې صفائي:

د ترخ او د نوم د لاندې ویختو د غدودو نه بد بوئي پیدا کیږی نو د دې وجې نه باربار د دې ځایونو صفائی کول ضروری ده. د بهتر صفائی دپاره د صابن د استعمال نه زیات د یو ځائي ویختۀ ویستلو سره کیږی یا په لږه لږه وقفه سره د هغې د کمولو سره کیږی. د نوم نه لاندې ویختو بار بار صفائی سره قوت مردانه هم زیاتیږی. (سوشل میډیسن)

د ترخ او د نوم نه لاندې ويښتو د صفاء کولو حکم ئې کړې دې او دا ئې امرِ فطرت اوګرځو او تاکيد ئې اوکړو چه په دې ځايونو د ځلويښتو ورځو نه زيات ويښته ساتل په عبادت کښې نقص پيدا کوی. (مسلم)

د اسلام څومره جامع هدايات دی چه د پاك والی سره سره په روح کښې تجلی هم حاصليږی او روح ته ارتقاء نصيب کيږی او د داسې اصولو طرف ته ئې رهبری اوکړه چه د "ميډيکل سائينس" شل فوائد بغير د طلب کولو نه د دې کار د کولو په ذيل کښې حاصليږی.

## مسواک او خولې ته اوبه اچول(مضمضه):

دا حکم هم د امورِ فطرت نه دی:

د مسواك په باره کښې سيده عائشه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله صلی الله عليه و سلم اوفرمائيل:

اَلسِّوَاكُ مَطْهَرَةٌ لِّلْفَمِ وَمَرْضَاةٌ لِلرَّبِّ۔ [نسائی]

"مسواك خولې لره پاکوؤنکې او د الله د رضا حاصلولو ذريعه ده".

د انفرادی صحت او پاکيزګۍ په باره کښې يو ډاکټر ليکی چه سحر غاخونه مسواك کول، سترګې په يخو اوبو سره وينځل، رانجه کجل لګول خائسته عادتونه دی. د پوزې او خولې نه د بد بوئيې راتلل د دے نه صفاء کولو نتيجه ده.

ډاکټر موصوف مخکښې ليکلے دی چه د خولې او غاښونو صفائی ډيره د اهميت وړ ده. غاښونه د شخوندولو د الې نه علاوه د غذا د هضمولو د پاره ضروری دي. د مخ خائسته والې او د مخرجونو نه د صحيح اداء کولو دپاره غاښونه ډير مدد ورکوی.

ګنده خولۀ، د غاښونو او نور د سختو مرضونو سبب جوړیږی د دې وجې نه اسلامی تعلیماتو کښې باربار د خولې د صفائۍ حکم کړې شوې دې.

## د خولې صفائی:

دا حکم هم په امورِ فطرت کښې داخل دی. رسول اکرم صلی الله علیه و سلم فرمائیلی دی:

طَهِّرُوْا اَفْوَاهَكُمْ- "خپلې خولې صفاء ساتئ"

او ډیر تاکید ئې کړې دې چه:

مِنْ بَعْدِ اَكْلٍ فَلْيَتَخَلَّلْ- "د خوراك نه روستو خلال کوئ"

او په دارمی کښې دی چه کله اوخورئ نو خلال اوکړئ.

## غړغړه:

د مرې غړغړه کول روزانه دوه پیرې خصوصاً سحر او ماښام روټې نه روستو د ښخوانو ټانسلائټس (ورم لوزتین) د پاره ډیر ضروری دی. [از سوویت یونین، شمار:۲،(۱۹۸۹،۳۸۸ء]

## په اوبو سره پوزه صفاء کول:

پرسنل هائیجین (انفرادی د صحت حفاظت) په سلسله کښې د پوزې د ګندګو د صفائۍ هم وخت په وخت ډیر اهمیت تاکید کولې شی چه د صحت د پاره روزانه څو وارې دې پوزه او حلق صفاء کړې شي نو دا د پوزې د بد بوئیې د پاره ډیر فائده مند دې. د پوزې د صفائۍ عادت خپلول ډیر ضروری دی خاص کر په ماشومانو کښې د دې خیال ساتل پکار دی. د ماهرین علاج الماء(هائیډروپیتهی) په نزد په پوزه کښې اوبه اچول نظر تیزوی.

## پوزه صفاء كول:

نبي صلى الله عليه و سلم د پوزې صفاء كولو باره كښې تعليم وركړې دي چه " په احتياط سره پوزه صفاء كوى چه د هغې دپاره يو لوخې استعمالوى يا د خلقو د نظرونو نه ځان بچ كړئ او صفاء ئې كړئ". (شمائل الرسول) لكه څه رنګه چه ځينى خلق په غير مهذب او غلطه طريقه د خلقو په مخ كښې پوزه صفاء كوى.

غور اوكړئ چه نن د دې د "صحت ادابو" نه لګ غفلت يا بې شعورې او لاپرواهي په بله معني كښې په غير اسلامي طريقه باندې ژوند تيرول د انساني صحت د پاره څومره خطرناك او هلاكت والا دى. چه نن هم د هر يو تمدن والا ملك دپاره د يو غټې مسئلې شكل اختيار كړې دې.

د دماغو د جراثيمو نه د بچ كيدو دپاره په پوزه كښې د اوبو اچولو نه بهتر هيڅ يو تدبير نيشته چه د دماغو طرف ته كله څه وخت ځينى خطرناكو مرضونو جراثيم (مائيكرو جراثيم) ځى نو د غټ غټ قوتونو دواياني د هغې د وجلو د پاره بې اثره ثابت شى خو حيرانتيا ده چه صرف د اوبو يو يا دوه څاڅكى د دې يقيني وژونكى او د ضرر لري كوؤنكې ثابت شوى دى.

## د پوزې ويخته صفاء كول:

كۀ د پوزې ويختۀ كټ كړې شى او كم كړې شى نو په صفائى كښې به اسانتيا وى او د خائست په نقطه نظر سره به بدنما هم نه ښكارى او ګندګى به په هغوى كښې اينختې هم په نظر نۀ راځى.

## د نوکانو صفائی:

اسلام په امور فطرت کښې د نوکونو کټ کول هم شامل کړې دی. نو نبی صلی الله علیه و سلم به په هره جمعه یا پنځلسمه ورځ باندې نکونه کټ کول. (شمائل نبوی)

د نوکانو د صفائۍ باره کښې په سوشل میډیسن کښې ډاکټر سیل ورپارك هم لیکلے دی چه نوکان په ځناورو کښې د ښکار کولو یا د حمله کوؤنکي نهٔ د بچ کیدو دپاره ډیر لوئی قدر و قیمت لری، خو په نسل انساني کښې د دې استعمال محدود دی او د دې ګنده کیدل د خطرې نه خالي نه دی، د دې وجې نه د حد نه زیات غټ شوي نوکونه د جراثیمو پناګاه او اکثر د متعدي (چه بل تن ته لګی) بیماریانو مثلاً ټائیفائیډ، دستونو، پیچس، هیضه او د کولمو د چینجو او ورم پیدا کوؤنکي جراثیمو په خوَرولو کښې مدد ورکونکي ثابتیږی.

ډاکټر سیل لیکی. چه غټ نکونه مضر صحت دی. ځینی خلق خپل نکونه په غاښونو سره کټ کوی. دا یو ګنده عادت دې نوکان همیشه د هغې په قدرتی حدود یعنيMark Of Demarcation کښې ساتی.

## د خوراک نه مخکښې لاسونه وینځل:

د خوراك نه مخکښې لاسونه او نوکونه په صابن سره ښهٔ صفاء کول پکار دی خاص کر په پاکستان او هندوستان کښې چه خوراك په لاسونو سره خوړلې شی او د کاروبار الې هم اکثر په لاسونو(Manual) چلولې شی، د دې وجې نه د دوی د یو بل نه متاثره کیدل لازمی دی

خاص کر چه نوکونه ګنده ساتلو عادت وی، د دې وجې نه څو وارې لاسونه په صابن سره وینځل پکار دی. د دې وجې نه شریعت د خوراك نه مخکښې لاسونه وینځل لازمی او سنت ګرځولی دی.

## سنت کول (ختنه):

رسول اکرم صلی الله علیه و سلم فرمائیلی دی:

اِختَتِنُوا (مشکوة) یعني ختنه اوکړې.

نبی صلی الله علیه و سلم د حضرت حسن او حسین رضی الله عنهما ختنه کړي وه. رسول اکرم صلی الله علیه و سلم چه کوم ځایونو صفائی او پاکیزګۍ لره د فطرت امور ګرځولۍ دي نو په هغې کښې ختنه کول هم شامل دي. (مشکوة طبرانی)

ختنه یو اهم سنت دې د کوم سرحدونه چه د وجوب سره میلاویګي او ختنه ته په دین کښې یو اهم او بنیادي مسئلې حیثیت حاصل دې. د دې وجې نه ختنه ته مسلمان دَ سنتي کول په نوم سره نوم کیخودې دې او دا د مسلمان کیدلو خاص کر په حادثاتو او بې هوشې په وخت کښې په مړو یا قتل کړې شوو کښې د شناخت نه کیدو په صورت کښې عام طور باندې یو اهم شهادت تصور کیږی.

ختنه کول صرف یو اسلامی رسم نه دې بلکه د ګڼړ شمیر فائدو لرونکې سنت دی د کومو د وجې چه نن غیر مسلمانان هم د جنسی مرضونو نه د بچ کیدو د پاره او د حقیقی ازدواجی خوند حاصلولو د پاره په دې سنتو باندې عمل کولو طرف ته مائله دی، بلکه دَ دے ته مجبوره دی.

د اکثرو سائنسدانانو خیال دې چه دا ماده (اسمګما) د خپلې ګندګئ او باریك صفائی د وجې نه د جراثیمو د اوسیدو کور جوړیږی. دا یو نازك او حساس پستکې دې چه د ګنده مادو د مسلسل خارجیدو د وجې د خطرناکو مرضونو تر دې پورې چه د سرطان(Cancer) پیدا کیدو سبب جوړیږی ځکه چه د سرطان د ټولو نه لوئې سبب یو ځائې لره مسلسل خراش (Constent Irritation) کیدل دی. د دې نه علاوه د دې عضو نور متعدی بیماریانې مثلاً سوزیدلو (Gonorrhorea) سره سره داغونه جوړیدل (Siphills) چه اکثر د ځوانې د غلطو کارونو په نتیجه کښې کیږی او په غیر ختنه شوي کښي د دغه ځائې د عدم صفائی او د دغه مرضونو نه د عضو په سورو کښي او د دې زیاتی پوستکې په دننه حصې کښې د اینختو د وجې د نورو پیچیدګیانو او په علاج کښي د سختو موجب وی نو ځکه د ختنې اهمیت نور هم سوا کیږی چه دَ امراض خبیثو جراثیم د عضو سره د باقی پاتیکیدو موقع پاتے نۀ شی.

(اسلام او جدید میډیکل سائنس)

# د ماشومانو د بندولو قابل عدوتونه

## د اسلام او ميډيکل سائينس په رڼرا کښي:

۱. ماشومانو کښي د يو نه بل ته لګيدونکو بيماريانو نه د بچ کيدو دپاره د پرنجی، ټوخی او اګرمي په وخت کښي دي د روميال د استعمال تاکيد اوکړې شی.

۲. بې احتياطه او بې سوچه توکلو، پوزې صفاء کولو نه ئې منع کړئی. او د واش بيسن او لاس رومال استعمالولو تاکيد دے ورته اوکړې شی.

۳. تختئی په توکانړو سره صفاء کولو نه او پينسل يا قلم په خولهٔ کښي د وهلو بد عادتونه تري لري کړئی.

٤. نوکونه په خولې کټ کول او هغه چوپل دا شان عادتونه تري لري کړئی.

٥. د وړو او غټو بولو نه د فارغيدو نه روستو د استنجا او لاسونو مکمل صفائی په صابن او اوبو سره کولو عادت ئې جوړ کړئ.

٦. خپيابله خپې ګرځيدو مذمت ورته بيان کړې کوم چه د ډيرو خطرو سبب وی.

۷. ماشومانو ته د ريس، ميلو او نمائش کښي د بازاری څيزونو د اخستو او د هغې د خوړلو خطرات اوښائی او د هغې په ځائې ورلره د ماسپخين د روټۍ انتظام اوکړئ.

۸. په تيزئ سره خوراك خوړل د هاضمې، دستونو، خيټې درد او بې چينئ سبب جوړيږی. د دې وجې نه نبی صلی اللّٰه عليه و سلم

د وړې نوړې (درې ګوتو سره د خوړلو) اخستو او ښهٔ ميده کولو او بيا خوړلو تاکيد کړې دې.

٩. د شپې خوراك پسې سمدستي سملاستل د بدهضمۍ او په خوب کښې د خلل سبب جوړيږی نو ځکه نبی صلی الله عليه و سلم هم د دې نه منع کړې ده.

١٠. په کورکښې ساتونکی ځناورو کښې سپې، پيشو وغيره او نورو ځناورو سره ميلاويدو نه ممکن ده چه ډيرې بيمارياني پيدا شی د دې وجې نه په هغوی دے ښهٔ نګرانی اوساتلې شی او صفاء دے اوساتلې شی او د بيماريانو نه لګيدو ټيکۀ دے ورته اولګولې شی.

## د ښځې ذمه واريانې

١. خوراك ځنګه تيار شو. کم ځائې کښې کيخودې شو او ځنګه استعمال شو.

٢. د ضروورياتو نه د پارغيدو نه روستو، د ماشوم د اخستو نه مخکښې د ګندګې دَ صفائی کولو نه روستو لاسونه په صابن او اوبو سره اوينځلې شو او کۀ نه.

٣. د څکولو او پخولو دَپاره دَ لوخی د صفائی او دَ صفاء اوبهٔ استعمال شوي دی او کۀ نه.

٤. د کار کوؤنکو نوکونه صفاء کټ کړې شوی دی او جامې ئې هم صفاء دی اوکۀ نه.

٥. پاك او صفاء باورچي خانه او چه په کښې د وينځلو د پاره د نالو ښهٔ بهترين انتظام وی او د حفاظت د پاره دے په ولاړه يا

په اوچت ځائې باندې کینی او پخلې دے اوکړی، او په هغې کښې دې د مچانو، مږو، سپو، پیشوګانو، کیږړو او میګیانو نه د حفاظت پوره اهتمام وی.

٦. د باورچی خانې د کچرې د پاره دے یو جدا ځائې وی او مناسب ځائې ته د رسولو دے پوره اهتمام وی.

٧. د خوراك څیز په لوخی کښې اچولو د پاره د لاسونو په ځائې د چمچې او کاشوغې استعمال دے اوکړې شی.

٩. ماشومانو لره د کور په بیت الخلاء کښې فارغیدو نه روستو د اوبو د استعمال او ګس لاس نبی صلی الله علیه و سلم په پاکه خاوره باندې (ځکه چه په هغه زمانه کښې صابن وغیره نه وو موجود) د مګلو او بیا د وینځلو تعلیم ورکړې دې ځکه د بې احتیاطه صفائی نه ځینی په نظر نه راتلونکې د پیچس او د دستونو جراثیم په لاسونو او نکونو کښې پاتیکیږی او د خوراك د څیزونو سره میلاویږی او د مرضونو سبب جوړیږی.

١٠. دغه رنګه د ماشومانه د خولې، غاښونو او نورو څیزونو په صفائی باندې د خاص توجه ضرورت دې.

١١. ښځې ته دَ خوراکونو د فائدو په باره کښې معلومات ورکول پکار دی دې دپاره چه د خپل وس مطابق د ماشومانو او نور د خاندان د افرادو د خوراك بهتر ترتیب جوړ کړی.

١٢. د څکلو اوبه او نور د خوراك څیزونه دے په پاکو او صفاء لوخو کښې کیخودې شی.

۱۳. لنډه دا چه کور واله ته د طبیعت مطابق خوراکونه او د هغې د پخولو بهتره طریقه، عامه صفائی او په خپله بدنی صفائی، د اوسیدو طور طریقې د مرضونو په پیدا کولو کښې صرف نه بلکه په خوړولو کښې هم ډیر لویه حصه اخلی.

د دې وجې نه په اسلامی تعلیماتو کښې ښځو ته د هغوی د کور کارونه په بهتر او خائسته طریقه باندې کولو ته د عبادت درجه ورکړې شوې ده.

## د خوراک څښاک څیزونه کهلاؤ خرڅول:

د صحت د برقرار ساتلو د پاره ( Preventive and Social Medicine Text Book) کښې ورلډ هیلته ارګنائزیشن دا مطالبه هم درج ده چه د خوراك څښاك څيزونه کهلاؤ خرڅول قانوناً جرم ګرځولې شوې دې. دا دے مطلب هم په اسلامی تعلیماتو کښې په سوونو کاله مخکښې تمدنی درجه حاصله کړې ده. ځکه چه د نبی صلی الله علیه و سلم هر ارشاد قانونی درجه لری. په دې سلسله کښې ارشاد کړې دې چه:

عَطُّوا الْإِنَاءَ وَاَوْكِئُوا السِّقَآءَ [بخاری مسلم]

"لوخی پټ کړې او د مشکیزې خوله بندهٔ ساتې"

د خوراك څښاك څیزونه چه کله د چا خواته وړی نه پټوی ئې او وړی. (متفق علیه)

## موازنه:

نن هم په هر ترقی یافته ملك کښې د خوراك څښاك کهولاؤ ساتلو او کهلې عام په بې احتیاطئ سره خرڅولو باندې عدالتونه جرمانه لګوی نو زمونږ په مقامی اخبار کښې هر ورځ داسې اطلاع ګانې

شائعه کیږی چه فلانکی عدالت په فلانکی سړي باندې ځکه جرمانه اولګوله چه هغه د خوراك څښاك څیزونه کهولاؤ، په بې احتیاطۍ سره خرڅول. دنیا دې لره قانونی شکل ورکولو باندې مجبوره په نظر راځی.

کچرې وغیره لره په لاپرواهۍ سره غورځولو دپاره قانوناً سخته منع دے اوکړې شی. داسي احکام هم مونږ ته د نبی کریم صلی الله علیه و سلم په تعلیماتو کښي میلاویږی. نو ارشاد ئې فرمائیلې دې:

نَظِّفُوْا اَفْنَائَكُمْ وَ سَاحَاتِكُمْ [زا دالمعاد]

"خپلې ابادۍ او صحن پاك ساتئ"

"تاسو خپل کورونه صفاء ساتئې او د کور مخښي ته ګند او خشاك یعني کچرا وغیره مۀ جمع کوئ" (ترمذی)

نبی صلی الله علیه و سلم د یو صحابي کور ته تشریف یوړو، نو وے کتل چه صحن ئې صفاء نه دې او لوخی ئېې پکښي هم ګنده ایخی دی نو ارشاد ئې اوفرمائیو چه د لوخو او صحن صفائی خو د بې پرواهۍ سبب جوړیږی. (مشکوة باب الطهارات)

## د مدینې دَ ښار مثالی صفائی:

د نبی صلی الله علیه و سلم د تعلیماتو دا اثر اوشو چه صحابه خو صحابه چه د نبی صلی الله علیه و سلم د احکامو تعمیل کولو مجسمې وې. په نورو قومونو کښي هم د مدینې ښار د صفائی او ستهرائۍ او د هغه ځائې د مسلمانانو په خپل مینځ کښي د اسلام د ډیر والی شهرت وو.

نو هر کله چه د نجران د عیسایانو یو وفد په مدینة النبی صلی الله علیه و سلم کښي داخیلیږی نو یو کم عمر هلك کهجورې خوری. پلار تري تپوس کوی چه ته د کهجورو هډوکی کوم ځائي ته غورځوی ؟ هلك ورته اووې چه لاندې لارې ته. پلار ورته په چغه اووې! "دا خو مدینة النبی صلی الله علیه و سلم ده او د دې ځائي امیر ته د ښار ګندګي خوښهٔ نه ده". هلك زر د اوښ نه کوزیږی او خپل غورزولې شوي هډوکی واپس راټولوی او وائی چه "بابا اوس به امیر زمونږ نه خوشحاله وی" پلار ورته جواب ورکړو: " او" بچیه د هغوی حکم د الله د طرف نه وی، د هغې تعمیل د الله د حکم تعمیل دې، په کوم چه د کائناتو رب خواه مخواه خوشحالیږی. د هغوی تعلیمات دي چه په خپلو کورونو او صحنونو کښي کچرا مهٔ جمع کوی او ښار هم صفاء او ستهرا ساتۍ، د دې وجې نه ته ګورې چه دا ښار څومره صفاء ستهرا او د رونق نه ډك دې کنه؟

په کورونو کښي د جولا جالې غریبی او نیستی پیدا کوی. نبی صلی الله علیه و سلم فرمائیلی دی:

طَهِّرُوْا بُیُوْتَکُمْ مِنْ نَسْجِ الْعَنْکَبُوْتِ فَاِنَّ تَرْکَهٗ یُوْرِثُ الْفَقْرَ۔ [معارف: ٦/٦٨٢]

"د جولا د جالو نه خپل کورونه صفاء ساتۍ ځکه چه د دې د پریخودو د وجې نه غریبی او نیستی پیدا کیږی".

د دې حدیث روایت کونکې علی رضی الله عنه دې (روح المعانی) د دې حدیث په رو سره مونږه له کورونو صفاء ستهراء ساتلو طرف ته متوجه کیدل دی ، ځکه چه د دې نه دَ بې پرواهئ د وجې نه بیماریانې او د بیماریانو نه غریبۍ او فقر او فاقې ته خبره رسی.

# دصفائۍ او پاکیزګۍ اداب

اوس لاندې مونږه د نظافت او پاکیزګۍ لپاره څو ضروري اداب ذکر کوو په کومو چه عمل کول ډیر ضروري دي.

1) د خوب نه د پاسیدو نه روستو لاسونه د وینځلو نه بغیر د اوبو په لوښی مه وهئ ځکه چه پته نه لګی چه د خوب په وخت کښې لاس کوم کوم ځائي سره لګیدلې دې.

2) د غسل خونې په ځائي کښې د بول کولو نه پرهیز کول پکار دي ځکه چه په دې کښې ډیر قباحتونه دي. او عام طور باندې وسوسې او د وهم بیمارئ د دې نه پیدا کیږي.

3) د حاجت ضروریه نه د فارغیدو د پاره مۀ قبلې طرف ته شاه کوئ او مۀ قبلې طرف ته مخ کوئ او د فارغیدو نه روستو ښۀ صفائی کولو نه روستو لاسونه هم وینځل پکار دي.

4) د اودس کولو دپاره ښي لاس استعمالول پکار دي خو د استنجاء کولو او پوزه پاکولو د پاره ګس لاس استعمالول پکار دي.

5) د نالۍ، نهر په غاړه، عامې لارې او د سائې والا ځایونو باندې د قضائې حاجت کولو دپاره د ناستې نه پرهیز کول پکار دي، د دې نه نورو ته تکلیف هم وی او د ادب او تهذیب هم خلاف ده.

6) د پوزې صفاء کولو یا بلغم توکلو دپاره په احتیاط سره ګلدان استعمالول پکار دي، که ګلدان نه وی نو د خلقو د نظرونو نه یو طرف ته خپل دا ضرورت پوره کول پکار دي. ځکه د خلقو مخې ته داسې کول د ادب او تهذیب خلاف دي.

7) په خولې کښې د پان کیدو په وخت کښې داسې خبرې کول نه دی پکار چه ستا په مخاطب باندې دارې اولګی او هغه ته تکلیف وی، دهغه رنګه کۀ کښې تمباکو یا نسوار استعمالوی یا پان ډیر زیات خورې نو د خولې صفاء ساتلو هم ښۀ اهتمام کول پکار دی. دې دپاره چه د خولې نه بد بوئې نه راځی او خلقو ته تکلیف نه وی. دغسې د ځینو خلقو د خولو نه بد بوئې راځی چه د نورو خلقو د تکلیف سبب جوړیږی لهذا د صفائې خیال ساتل ضروری دی.

8) کم نه کم په هفته کښې یو ځل غسل کول پکار دی او د دې دپاره د جمعې په ورځ باندې اهتمام کول پکار دی، نوکونه کټ کول، زیاتی ویختۀ لرې کول او صفاء ستهرا جامې اغوستل په دې ورځې ښۀ اهتمام کول پکار دی. نبی صلی اللّٰه علیه و سلم فرمائیلی دی چه د امانت ادا کول سړی لره جنت ته بوزی. صحابه کرامو رضی اللّٰه عنهم اجمعین تپوس اوکړو یا رسول اللّٰه د امانت نه څه مراد دی؟ اوئې فرمائیل د ناپاکی‌ نه د پاکیدلو د پاره غسل کول، د دې نه لوئې اللّٰه تعالیٰ حیث امانت نه دې مقرر کړې، نو چه سړی ته کله د لامبلو حاجت راشی نو غسل دې اوکړی. د ګرمئ په موسم کښې دَ ځینو خلقو د خولې نه ډیر بد بوئې راځی چه د نورو خلقو د تکلیف سبب جوړیږی لهذا وخت په وخت غسل کول او خوشبو لګولو اهتمام ضروری دې .

9) د ناپاکۍ په حالت کښې جمات ته تلل او د جمات نه تیریدل منع دی او که مجبوری وی او د غسل څه صورت نه جوړیږی نو تیمم دې اوکړی او جمات ته دې لاړ شی.

10) په ویختو کښې تیل لګول او ګومنز کولو هم اهتمام کول پکار دی په سترګو کښې رانجه اچول هم د نبی صلی الله علیه و سلم سنت دی او په سادګۍ او اعتدال کښې اوسیدو سره مناسب ځان ښائسته کولو کښې هم څه حرج نیشته، بلکه ضروری دی. نوې او اعلي قسم لباس که نوې نو خیر دې زړې جامې دی وی خو هغه صفاء ساتل پکار دی.

11) د اودس یا مخ لاس وینځلو نه روستو په خپله لمن سره مخ لاس اوچول یا په لمن پوزه پاکول د ادب او تهذیب خلاف دی. لهذا داسې نه دی کول پکار بلکه د دې دپاره دې د رومال وغیره استعمال اوکړې شی. دهغه رنګه په ډك مجلس کښې د خلقو وړاندې په پوزه کښې ګوتې وهل هم بد تهذیبی ده.

12) جمات، دفتر، ګاړی یا هر یو صفا ځائې ته د راتلو په وخت کښې خپل پیزار وغیره سنډل او صفاء کول ضروری دي. ځینی خلق ګنده پیزار یا د باران او خټو نه ډك پیزار داسې ځائې ته راوړی د کوم نه چه د جمات، کور، یا ګاړی فرش یا قالین ګنده کیږی. لهذا د دې خیال ساتل ضروری دی.

13) دغه رنګه د خوراك په وخت کښې غټې غټې نوړې وهل او زر زر خوړل یا په سالن وغیره سره ځائې ګنده کول او ټول لاس او ګوتې په سالن باندې سخا کول هم د حرص نښه ده او بې ادبی ده.

14) دغه رنګه د خوراك په وخت کښي د اوبو لوخی یا ګلاس وغیره په سالن او ترکارۍ وغیره باندې ګنده کول هم د ادب خلاف دی لهٰذا ګلاس وغیره په داسي طریقه سره نیول پکار دي چه په سالن باندې ګنده هم نه شی او د نورو د پاره د کراهت سبب هم جوړ نه شی مثلاً په دې وخت کښي اوبو څښلو سره ګلاس په هغه ګوتو باندې اونیسئ په کوم چه سالن نه وی لګیدلې یا ګلاس په ګس لاس سره اونیسئ چه د سالن نه پاك وی او د ښی لاس په تلی کښي ئې کیږدی او اوڅښئ په دې طریقه سره به په ښی لاس د اوبو څښلو سنت هم ادا شی او ګلاس وغیره به هم نه ګنده کیږی.

15) د پرنجي کولو په وخت کښي په خولې باندې رومال ایخودل پکار دی دې دپاره چه په چا باندې داري پریونځی. د پرنجی نه روستو اَلحَمدُ للهِ وئیل او اوریدونکی لره یَرحَمُكَ اللّٰهُ وئیل او بیا د دې په جواب کښي یَهدِیكَ اللّٰهُ وئیل پکار دی دې دپاره چه د ظاهر سره د باطن هم صفائی کیدو اهتمام اوشی.

16) د خوشبو استعمال په کثرت سره کول پکار دی ، رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه و سلم به خوشبو ډیره خوښوله ، نبی صلی اللّٰه علیه و سلم چه به اودوه کیدو نه روستو پاسیدو د ضروریاتو نه به فارغ شو نو خوشبو به ئې ضرور استعمالوله.